

# رضاکارانه وتل

## خطرونه، ګټې، او په ۲۰۲۵ کال کې نوي بدلونونه

رضاکارانه وتل هغه قانوني لاره ده چې د اسنادو نه لرونکي مهاجر ته اجازه ورکوي، چې د کډوالۍ د چارواکو له خوا د ایستلو (ډیپورټ) پر ځای په خپله خوښه له امریکا څخه ووځي. که تاسو د دې لارې په اړه فکر کوئ، مهمه ده چې ښه پوه شئ دا څه مانا لري، کومې ګټې او خطرونه لري، او څنګه یې غوښتنه کولی شئ.

### رضاکارانه وتل څه ته ویل کیږي؟

رضاکارانه وتل یا په خپله خوښه ستنیدل دا مانا لري چې تاسو د کډوالۍ / مهاجرت د قاضي د پرېکړې له مخې له امریکا د وتلو اجازه ترلاسه کوئ، او د اخراج (ډیپورټ) پر ځای په خپله له هېواده ځئ.

د رضاکارانه وتلو دوه ډولونه:

**۰۱ د وروستۍ پرېکړې نه مخکې:**

تاسو د خپلې کډوالۍ قضیې تر ختمېدو مخکې د رضاکارانه وتلو غوښتنه کوئ.

دا ډول غوښتنه ډېرې وختونه په اسانۍ منل کېږي.

**۰۲ د وروستۍ پرېکړې وروسته:**

تاسو د خپلې قضیې/ کیس په پای کې، هغه وخت چې قاضي پرېکړه کړې وي چې تاسو ته د پاتې کېدو اجازه نه ورکوي، د رضاکارانه وتلو غوښتنه کوئ.

دا ډول غوښتنه ډېره سخته منل کېږي.



**په دواړو حالتونو کې، دا غوښتنه باید د محکمې په غونډه کې مستقیم له قاضي له لورې وشي.** د رضاکارانه وتلو لپاره تاسو باید:

- ومنئ چې بې اسنادو په امریکا کې اوسېدلي یاست،
- او که مو د کډوالۍ / مهاجرت کومه بله غوښتنه یا عریضه کړې وي، هغه بېرته واخلئ.

### ولې خلک د رضاکارانه وتلو غوښتنه کوي؟

که ومنل شي، رضاکارانه وتل ستاسو په دوسیه کې د اخراج امر د ثبتېدو مخه نیسي. دا په راتلونکې کې د ویزې یا نورو کډوالۍ ګټو لپاره د غوښتنې پروسه اسانه کولی شي.

خو باید پوه شئ، چې دا پرېکړه جدي منفي اغېزې هم لرلای شي.

### خطرونه:

که تاسو په امریکا کې د اسنادو پرته له یو کال زیات پاتې شوي یاست، **رضاکارانه وتل کولی شي تاسو ته د بیا راتلک لس کلن بندیز ولګوي .**

**یادونه:** دا د هغو کسانو لپاره نه پلي کېږي چې د ۱۸ کلنۍ نه مخکې وځي.

۰2. ښایي تاسو د **پناه غوښتنې/ اسایلم یا نورو قانوني** خوندیتوبونو د غوښتنې حق له لاسه ورکړئ.

۰3.ډېرې وختونه باید د ستنېدو لګښتونه خپله ورکړئ.

۰4.که په ټاکلي وخت ونه وځئ، **تر ۹۹۸ ډالرو پورې ورځنۍ جریمه** او د بیا راتلک بندیز سره مخ کېدای شئ.

### رضاکارانه وتل که په خپله خوښه وتل ؟ توپیرونه یې :

**که څه هم دا دواړه اصطلاحګانې یو شان ښکاري ، خو دواړه یو ډول نه دي :**

**په خپله خوښه وتل** یوه **غیر رسمي اصطلاح** ده چې مانا یې دا ده چې **له قاضي د اجازې پرته له هېواده وځئ**. دا طریقه هم د رضاکارانه وتلو په څېر ډېرې خطرونه لري، او سربېره پر دې، ښایي ستاسو په دوسیه کې د اخراج امر هم ثبت شي.

VS

**خو رضاکارانه وتل** یوه **رسمي قانوني پروسه** ده چې د کډوالۍ قاضي یې منظوروي، او که ټول شرایط پوره کړئ، د اخراج امر نه ثبتېږي.

### په ۲۰۲۵ کال کې نوي بدلونونه:


د ۲۰۲۵ کال د په مې په ۵ مه نېټه ، ولسمشر ټرمپ د **CBP Home اپلیکیشن** له لارې د په خپله خوښه ستنېدلو نوی پروګرام اعلان کړ. د دې پروګرام له لارې هغه کسان چې قانوني اسناد نه لري، کولی شي د وتلو اراده فورمه وسپاري.

ادعا کېږي چې د دې پروګرام برخه اخیستونکي به تر ۱۰۰۰ / زر ډالرو مالي مرسته، د سفر لګښتونو کې ملاتړ، او د ځینو پلي کېدونکو اقداماتو (لکه توقیف) څنډ تر لاسه کړي. خو **هیڅ قانوني تضمین نشته** چې دا پیسې به خامخا ورکړل شي او یا به دا پروسه په خوندي ډول تر سره شي.

یادونه: که څه هم تاسو ممکن د "رضاکارانه وتلو" اصطلاح واورئ، دا پروګرام په خپله خوښه ستنېدلو (خوداخراجۍ) یوه بڼه ده. دا پروګرام د هغه دوديز رضاکارانه وتلو سره برابر نه دی چې د مهاجرت قاضي له خوا ورکول کېږي.

**یادونه:** دا پروګرام د **دودیز رضاکارانه وتلو قانوني** ګټې نه لري، او د راتلونکي لپاره ستاسو د امریکا ته د بیا راتلك حق نه ساتي.

### څه باید وکړم؟



له دې وړاندې چې د داوطلبانه وتلو (Voluntary Departure) یا د ځان په خوښه شړل کېدو (Self-Deportation) په اړه کومه پرېکړه وکړئ، له یو کډوالۍ وکیل سره مشوره وکړئ. وکیل کولی شي تاسو ته ستاسو د حقونو او دا چې داوطلبانه وتل ستاسو د کډوالۍ پر قضیه څه اغېز لرلی شي، وضاحت درکړي.

- **یادونه:** د وکیل سره له خبرو کولو مخکې هیڅ سند مه لاسلیک کوئ.
- خپل حقونه وپېژنئ! په یاد ولرئ، تاسو د چوپ پاتې کېدو حق لرئ او د قانوني وکیل لرلو حق هم لرئ.

ImportaMí

دا لیکنه یوازې عمومي مالومات وړاندې کوي او باید د قانوني یا حقوقي مشورې پر ځای و نه ګڼل شي.

INTERNATIONAL RESCUE COMMITTEE